AMSO
Afghanistan Media Support Organisation

د اګسټ پنځلسمې یا افغانستان کې د جمهوري نظام د راپرځېدو خلورمې کلیزې په مناسبت او د خبریالانو او رسنیو لپاره یې د منفي پایلو په اړه د افغانستان د رسنیو ملاتړ سازمان تحلیلي راپور!

کال: ۱۴۰۴

د اګسټ پنځلسمې یا افغانستان کې د جمهوري نظام د راپرځېدو څلورمې کلیزې په مناسبت او د خبریالانو او رسنیو لپاره یې د منفي پایلو په اړه د افغانستان د رسنیو ملاتړ سازمان تحلیلي راپور!

د ۲۰۲۱ کال د اګسټ ۱۵مه په افغانستان کې د رسنیو او د بیان ازادۍ په تاریخ کې یوه توره دوره ده. د جمهوري نظام له راپرځېدو وروسته د خبریالانو او رسنیو وضعیت خورا خراب شو او نن ورځ د رسنیو کارکوونکي د هېواد د مطبوعاتو په تاریخ کې تر ټولو توره دوره تجربه کوي. د رسنیو او خبریالانو پر فعالیتونو باندې مخ په زیاتېدونکي محدودیتونه هره ورځ لا ډېر سخت شوي او لا هم په سختېدو دي.

ګڼشمېر خبریالان له هېواده وتلو ته اړ شوي، لسګونه رسنۍ په بشپړه توګه بندې شوې او معلوماتو ته لاسرسی ډېر سخت محدود شوی دی. د رسنیو ملاتړې بنسټونه هم تر فشار لاندې راغلي او د اوسني وضعیت په اړه په بشپړې روښتیا سره د راپور ورکولو وسه نه‌لري.

اوسني واکمنانو د خپلې لومړۍ دورې په څېر یو ځل بیا په رسنیو کې د ژوندیو موجوداتو د تصویرونو خپرول منع کړي؛ هغه محدودیت چې اوس په ډېرې ولایتونو کې پلی شوی او په نورو هغو کې هم په چټکۍ سره پلی کېږي.

لسګونه رسنۍ د بېلابېلو فشارونو او بندیزونو له امله تړل شوي او ډېرې نورو خپله بشري قوه او تخنیکي وړتیا له لاسه ورکړې ده. اوس لس خبریالان او د رسنیو کارکوونکي د طالبانو په زندان کې دي. پراخ سانسور او ګواښونو د رسنیو فعالیتونه سخت محدود کړي او د افغانستان د رسنیو په تاریخ کې یې یوه توره پاڼه پرانېستې ده.

پر رسنیزو بنسټونو فشار او د جلاوطنه رسنیو وضعیت

په کور دننه د رسنیو ملاتړې بنسټونه تر سخت فشار لاندې دي چې له امله یې د ازادو رسنیو د ملاتړ فعالیتونه کم شوي او له هېواد نه بهر هم افغان جلاوطنه رسنۍ له جدي ستونزو سره مخ دي؛ ډېرې یې د نړیوالې ټولنې بشپړ ملاتړ نه ترلاسه کوي او داسې پیاوړې، مسلکي او د زیاتو مخاطبانو لرونکې رسنۍ چې د ډېرو افغانانو اړتیاوې پوره کړي، ډېرې لږې او محدودې دي.

ډېرې افغان خبریالان لا هم په ګاونډیو هېوادونو، په ځانګړې ډول ایران او پاکستان کې بېبرخلیکي تجربه کوي او هلته د نیولو او شړلو له سخت ګواښ سره مخ دي. په وروستیو میاشتو کې د پاکستاني او ایراني امنیتي ځواکونو له‌خوا د افغان خبریالانو د نیولو او شکنجې ګڼ راپورونه ورکړل شوي دي.

د خبریالانو پر وړاندې تاوتریخوالی

له ۲۰۲۱ کال راهیسې د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي ۵۳۹ پېښې چې فزیکي بریدونه، ګواښونه، نیول او بندي کېدل په‌کې شامل دي، ثبت شوې دي. اوس ۱۰ خبریالان په زندان کې دي او دا موضوع د رسنیو ازادۍ د راتلونکې او د خبریالانو د خوندیتوب په برخه کې د اندېښنې وړ ده.

د تاوتریخوالي ډولونه په لاندې جدول کې کټګوري شوي دي:

افغانستان کې د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي موارد (د ۲۰۲۱ له اګسټ څخه د ۲۰۲۵ تر جولای پورې)

د تاوتریخوالي ډولونه		
شمېره	د تاوتریخوالي ډول	شمېر
۱	وژل شوي	۲
۲	ټپیان	۲۰
۳	نیول شوي	۲۵۳
۴	ګواښل شوي	۷۹
۵	وهل ټکول	۵۱
٦	ناوړه چلن	۵۳
۷	ناقانونه چلن	۵۹
۸	تښتونې	۵
۹	د وژلو هڅه	۲
۱۰	احضار	۱۰
۱۱	تر څار لاندې	۱
۱۲	شکونه	۴
ټول ټال		۵۳۹

د جنسیت پر بنسټ		
شمېره	جنسیت	شمېر
۱	نارینه	۴۸۷
۲	ښځینه	۵۲
ټول ټال		۵۳۹

پایله او غوښتنه

په افغانستان کې د رسنیو ازادي، ژورنالېزم او په‌کې د ښځو کمرنګی ګډون له بې‌ساري ګواښ سره مخ دي. د رسنیو د شمېر کمښت، سخت سانسور، تاوتریخوالي او قانوني محدودیتونو د بیان ازادۍ بنسټ ته سخت زیان رسولی. نړیواله ټولنه، د بشري حقونو سازمانونه او د رسنیو اداري باید د افغان خبریالانو ملاتړ ته ځانګړې پاملرنه وکړي، څو د ازاد او مسوول ژورنالېزم د بیا راژوندي کولو لپاره لاره هواره کړي.

د افغانستان د رسنیو د ملاتړ سازمان اقدامات

د افغانستان د رسنیو د ملاتړ سازمان په تېر کال کې له نړیوالو بنسټونو سره د منظمو اړیکو په جوړولو د خنډونو د لرې کولو او خبریالانو د ملاتړ لپاره اغېزناک ګامونه پورته کړي او په دې برخه کې د همکارو سازمانونو له ارزښتناکې همکارۍ څخه منله کوي. مورِ د بیان ازادي او د رسنیو خپلواکي بنسټیز حقونه ګڼو او په راتلونکي کال کې مورِ د هېواد دننه او بهر د خبریالانو او رسنیو د وضعیت تعقیب لپاره ځانګړي پروګرامونه په پام کې نیسو. د افغانستان د رسنیو د ملاتړ سازمان یو ځل بیا ژمنه کوي چې د شته ننګونو د حل لپاره به د خبریالانو او رسنیو له ملاتړو سازمانونو سره په ګډه کار کوي او دې برخه کې هر ډول همکارۍ ته چمتو دی.

په درناوي

د افغانستان د رسنیو د ملاتړ سازمان